بسم الله الرحمن الرحیم

## پیام د لبنان مسلمانانو او په ځانګړې توګه پوهانو، علماوو، د جوماتونو امامانو او خطیبانو ته!

## د انساني ورورګلوۍ له تړون او له هغه سره له مرستې نه ځانونه وباسئ

د شیخ او مفتي عبداللطیف دریان تر لارښونې لاندې، د ټولو دیني چارو ادارې د جوماتونو امامانو او خطیبانو ته بلنه ورکړه چې د پنجشنبې ورځې(۱۴/۵/۲۰۲۰نېټه) د مازدیګر له لمانځه وروسته په ګډه الله سبحانه وتعالی ته دعاء وکړي. دغه کار باید د کرونا ویروس د لرې کېدو په پار د لبنان په هر جومات کې ترسره شې. دغه څه د هغه تړون پر اساس کېږي چې د ۲۰۱۹ ز کال په فبروي کې د الازهر د شیخ دوکتور الطیب او د واتیکان د پاپ فرانسیس له خوا د عربي متحده اماراتو په مرکز ابو ظبې کې لاسلیک شو. (ملي اطلاعاتي اژانس ۱۳/۵/۲۰۲۰ نېټه)

ای د لبنان مسلمانانو او په ځانګړي ډول مشایخو، علماوو ، د جوماتونو امامانو او خطیبانو!

دغه تړون او هغه څه چې په دغه تړون کې شامل دي، له څو اړخونو خطرناک دی:

۱- له نورو ټولو ادیانو سره د اسلام د دین چې د الله سبحانه وتعالی ربښتینی دین برابروالی. له هغو دینونو سره چې ځینې یې په اصل کې الهي وو، خو وروسته تحریف شول او ځینې نور چې بت پرستان دي!

که فرضاً د امکان په صورت کې ووایو چې اسلام له نورو ادیانو سره موافق دی، خو هېڅ داسې دلیل نشته چې د کاتولیک دین سره موافقت ولري، کوم چې د الازهر شیخ یې له پاپ سره ولاړ دی او په دې نړۍ کې یې د ستونزو د حل په موخه د (انساني ورورګلوۍ) تړون ورسره لاسلیک کړ، تر هغو شعارونو لاندېچې د غربي فرهنګ او تمدن ریښې لري. لکه، د خلکو عمومي ازادۍ او د نشنلېزم مفهوم. دغه راز (له ترهګرۍ سره مبارز) عبارت هم په دغه سند کې راغلی، پرته له دې چې د ترهګرۍ

لپاره تعریف وړاندې کړي، ځکه چې دوی تل مسلمانانو او اسلام ته د ترهګرۍ خطاب کړی دی.

۲- له دغه تړون څخه دا هم جوتېږي چې د نورو ادیانو پیروانو او د مسلمانانو په منځ کې هېڅ توپیر نشته، دوی د ایمان دلایل یوازې تر دې خبرې را لنډوي چې خالق شته، مګر حقیقي اسلام د ایمان لپاره واضح تعریف لري او ایمان د: ((الایمان بالله و ملائکته وکتبه ورسله والیوم الآخر والقدر . . .)) په توګه راپېژني، له همدې کبله د اسلام له نظره هغه کسان مومنان نه دي چې وایي، د مریم زوی مسیح زموږ خدای دی او نه هغه کسان چې وایي، خدایان درې دي او نه هغه کسان چې وایې، محمد صلی الله علیه وسلم نبی نه دی، مګر قران کریم د الله سبحانه وتعالی کتاب دی.

۳- اصلې خبره دا نه ده چې تاسې د اسلام او نورو ادیانو په منځ کې مشترک والي پسې وګرځی او په دغه کار بسنه وکړی، مګر دا چې د اسلام او نورو ادیانو په منځ په ډېرو اساسي او بنسټیزو شیانو کې اختلاف شته دی، نو دا سمه خبره نه ده چې یو څوک خلکو ته ووایي چې اسلام د نورو ادیانو سره په ډېرو مسایلو کې موافق دی.

که هر څوک حق غواړي چې ځان ته ثابت کړي، نو د هر دین عقاید او افکار دې د عقلي او واقعې دلایلو پر اساس وڅېړې تر څو حق ته ورسیږې. له نورو کسانو سره د مسلمانانو د اړیکې منشا دا ده چې یو مسلمان په ډېر اخلاص او حرص سره ټولو انسانانو ته دعوت ورکوي، مګر په دعوت کې له هېڅ ډول جبر څخه کار نه اخلي او اسلامې دین د دعوت لپاره دا کافي ده چې ووایو، اسلام یو حق دین او نور ادیانو ته اختتام ورکوونکی دی.الله سبحانه وتعالی فرمایي:

((قل يأيها الناسُ انّى رسُولُ اللهِ اليكُمْ جميعًا الّذى لهُ ملك السّموتِ والأرضِ لآ إلهَ إلّا هُو يُحْيِ ويُميْتُ فئامنوا باللهِ ورسوله النبىّ الأمّىِّ الذى يؤمنُ بالله و كلمته واتّبعوهُ لعلّكم يعّتدُون))

***ژباړه:*** *اې پیغمبره خلکو ته ووایه: زه د الله سبحانه وتعالی له خوا تاسو ټولو عربو او عجمو، تور پوستو، سپین پوستو، زېړ پوستو او سور پوستو ته رالېږل شوی یم. پرته له الله سبحانه وتعالی څخه بل څوک د عبادت وړ نه دي. همدغه ذات دی چې مړه کول او ژوندي کول کوي. نو په الله سبحانه وتعالی او د هغه په رسول باندې ایمان راوړئ، له نوموړي*

*نالوستي پیغمبر څخه چې په الله سبحانه وتعالی او په خبرو يې ايمان لري پيروي وکړئ تر څو هدايت ترلاسه کړئ.* [سورة اعراف : ۱۵۸]

هغه سبحانه وتعالی دغه راز فرمايي:

(( وَمنْ يبتغِ غير الاسلامِ ديناً فلنْ يقبل منه وهو في الأخرة من الخاسرين))

***ژباړه:*** *څوک چې د اسلام له دين څخه پرته بل دين غوره کړي نو الله سبحانه به يې قبول نه کړي او د اخرت په ورځ به له لويو زيان کوونکو څخه وي.* [سورة العمران: ۸۵]

او دا هغه دقيقه مانا ده چې دغه ايت پرې دلالت کوي او الله سبحانه وتعالی فرمايې:

((قل يا أهل الكتابِ تعالوا إلى كلمةٍ سواءٍ بَيْننا و بينكم الاّنعبدَ إلا اللهَ ولا نشرك به شيئاً ولا يتخذَ بعضنا بعضاً أربابا من دون اللهِ فإن تولوا فقولوا أشهدوا بأنّا مسلمُونَ.))

***ژباړه:*** *ووايه: اې اهل کتابو! د حق لورته راشئ هغه څه چې زموږ او*

*ستاسو په منځ کې ګډه دي او ټول يې په ژبه وايو، راځئ پر هغو عمل وکړو او له الله سبحانه وتعالی پرته د بل چا عبادت ونه کړو، له هغه سره څوک شریک نه کړو او له موږ څخه ځینې ځینې نور د یو الله پاک پر ځای په خدایي باندې ونه نیسو، که چېرته مو په دغه ټولو لارښوونو باندې عمل وکړ نو باخبر اوسئ چې موږ د الله سبحانه وتعالی فرمانبردار بندګان یو.* [آل عمران: ٦۴]

۴- اسلام په مسلمانانو دا حرام کړي چې دوی اسلام له نورو ادیانو سره برابر وګڼي، اسلام هغه دین دی چې ساری نه لري الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((إن الدين عنداللهِ الاسلام وما اختلف الذين أوتو الكتاب الا من بعد ما جاءهم العلمُ بغياً بينهم ومن يكفر بايات الله فان الله سريع الحساب * فان حاجوک فقل أسلمت وجهي لله و من أتبعن وقل للذين أوتو الكتاب والأميين أأسلمتم فان اسلمو فقد اهتدوا و ان تولو فانما عليک البلاغ والله بصير بالعباد.))

***ژباړه:*** *بېشکه اسلام  د الله سبحانه وتعالی په نزد دحق دین دی او*

*همدغه د ټولو پیغمبرانو ایین دی. او اهل کتاب په دې هکله اختلاف نه لري مګر کله چې په حقیقت وپوهېدل د خپلمنځي سرکشیو او ظلمونو له لاسه یې دا کار هم وکړ او د قدرت د لاسته راوړلو پرته یې بله انګېزه نه درلوده. او څوک چې د الله سبحانه وتعالی کلام منه مني او اسماني کتابونو ته شا کړي نو کفر کوي او له شک پرته الله سبحانه وتعالی زر خپله سزا ورکوي. نو که له تاسره یې کشمکش کولو ورته ووایه: چې زه او زما پیروانو ځانونه الله سبحانه وتعالی ته ځانونه تسلیم کړي او مخ مو هغه ته کړی. اهل کتاب (یهودیانو او مسیحیانو) بې سوادانو (د عربو مشرکانو) ته ووایه چې ایا تاسو تسلیم شوي یاست؟ که تسلیم شول نو هدایت یې موندلی او که یې سرغړونه وکړه، نو ته غم مه کوه ځکه ستا دنده یوازې تبلیغ او رسالت دی او الله سبحانه وتعالی د بندګانو اعمال او عقیدې ګوري.* [آل عمران:۱۹-۲۰]

له نورو ادیانو سره د اسلام برابروالی یو خطرناک بدعت دی او په اسلامي تاریخ کې هېڅکله داسې څه نه دي راغلي چې حاکم د مسلمانانو او یا عالم دین، اسلام له نورو ادیانو سره برابر ګڼلی وي. هېڅ بشر ته په دې دنیا کې حق نشته چې اسلام له نورو ادیانو سره برابر کړي. الله سبحانه

وتعالی فرمایي:

(( ولا تلبسوا الحق بالباطل و تکتموا الحق و أنتم تعلمون))

***ژباړه:*** *حق له باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ اوس خو پوهېږئ چې د نوموړي پیغمبري حق ده.* [البقرة:۴۲].

دغه راز قرآن کریم هم اسلام له نورو دینونو بېل ګڼي او وایي:

((لکم دینکم وليَ دین))

***ژباړه:*** *ستاسو دین ستاسو لپاره او زما دین زما لپاره دی.* [الکافرون: ٦]

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

((وأنزلنا الیک الکتاب بالحق مصدّقا لما بین یدیه من الکتاب و مهیمنا علیه فاحکم بینهم بما أنزل الله ولا تتبع أهواءهم عمّا جاءک من الحق لکل جعلنا منکم شرعةً و منهاجاً ولو شاءالله لجعلکم أمّة واحدة ولکن لیبلوکم في ما أتاکم فاسبقوا الخیرات الی الله مرجعکم جمیعاً فینبئکم بما کنتم فیه تختلفون)).

***ژباړه:*** *اې پیغمبره پرتا مو پوره کتاب (قران) نازل کړی، چې ټول د حق خبرې او له پخوانیو کتابونو او د هغوی له اصولو سره موافق دی. که اهل کتاب له تا څخه د پرېکړې کولوغوښته نو د هغه څه پر اساس پرېکړه وکړه چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي. او د هغوی د هوا نفس د غوښتنو څخه پیروي مه کوه او له حق څخه مه تېرېږه، اې خلکو د تاسو هر قوم ته مې حق ته د رسېدلو لاره روښانه کړې ده، که الله سبحانه وتعالی غوښتي وای تاسو ټول به یې یو امت پیدا کړي وای مګر الله سبحانه وتعالی داسې ونه کړل. ځکه نو تاسو په خپلو شرائعو باندې امتحان کوي تر څو فرمانبردار او نافرمان معلوم کړي، نو د نېکیو پر لور بیړه وکړئ، د خپل منځي اختلافونو پر ځای صدقې ورکړئ او په دې پوه شئ چې د ټولو راګرځېدل د الله سبحانه وتعالی په طرف دي او په هغه څه کې چې اختلاف لرئ هغه یې درته واضح کړه او هر یو به د خپل ښه او بد عمل مسئول وي.* [المائدة:۴۸]

۵- پاتې شوه دا خبره چې اسلام د اسانتیا دین دی، د بشر په تاریخ کې داسې ډېرې لویې پېښې ثبت دي چې اسلام له غیر مسلمانانو سره څومره اسانتیا کړې ده.

اسلامي شرعيت دا روا گرځولې چې مسلمانان او غیر مسلمانان (نورو ادیانو پیروان) د اسلامي نظام تر چتر لاندې په ګډه سره ژوند کولای شي، پرته له دې چې دا توپیر وکړي چې دا مسلمان دی او که غیر مسلمان، بلکې دوی ټول سره انسانان دي او د دوی له ارزښتونو او ځانونو څخه د دفاع مسوولیت هم پر غاړه لري او پر مسلمانانو یې دا حرام ګرځولې چې په جبر سره دوی اړ کړي ترڅو اسلام ومني.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

(( لا اکراه في الدین))

***ژباړه:*** *د دین په قبلولو کې زور او جبر نشته.* [البقرة:۲۵٦]

او په مسلمانانو یې دا هم حرام ګرځولې چې دوی د نورو ادیانو شعایرو ته سپکاوی وکړي، نو دوی کولای شي چې د خپل دین مراسم ترسره کړي، کوم ډول کالي او خوراک چې دوي یې کوي، کولای یې شي، هېڅ ممانعت پرې نشته او هغه څه چې پر مسلمانانو لازم دي، هغه په دوی نه دي لازم. دغه راز هغه څه چې پر مسلمانانو حرام دي، پر دوی نه دي حرام.

اسلام په ځانګړې توګه له نورو اهل کتابو لوړ تللی او د مسلمانانو لپاره مباح ده چې د اهل کتابو د لاس ذبحه وخوري نه، د مشرکینو د لاس. مسلمانان د اهل کتابو سره نکاح کولای شي، نه له مشرکینو سره او د نکاح لارې يې ورته خلاصې کړې دې او هغه نېکي او ښېګڼې چې  د يوې مسلمانې مېرمنې سره کېږي، نو د يوې اهل کتابې مېرمنې سره به هم کېږي.

دغه راز الله سبحانه وتعالی فرمايي:

((لَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ))

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی تاسو له هغو کسانو سره له نېکۍ کولو څخه نه منع کوي چې له تاسو سره د دين په خاطر جنګېدلي او تاسو يې له خپل وطن څخه ايستلي يئ، ځکه الله سبحانه وتعالی له نېکي کوونکو سره مينه لري.* [الممتحنات- ٨]

ای علماوو، مشايخو، امامانو او خطيبانو!

ستاسو مسوولیت له عادي مسلمانانو ډېر لوی دی؛ ځکه چې علما د پیغمبرانو وارثان دي، لکه څنګه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، مونږه ته خبر راکړی او د علماوو خبرې په عامو مسلمانانو ډېرې اغېزناکې دي، نو پس دا نو څه خبر ده چې تاسو یې اعلانوئ!؟

نو له همدې کبله د ګډې دوعا لپاره چې کوم تړون لاسلیک شوی، د اسلام له ماهیت سره په ټکر کې دی او مسلمانان باید د دغې تېروتنې مرتکب نه شي.

ډېر د خپګان حالت دی چې د مسلمانانو هغه په اسلام پوه خلک چې په اسلامي علومو کې تخصص لري، دا ډول تړون د نورو ادیانو له خاوندانو سره لاسلیک کوي.

ای زموږ ګرانو علماوو!

زموږ لپاره د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونې او نصیحتونه کافي دي، دا ځکه چې هغه صلی الله علیه وسلم تر ټولو غوره ناصح او مرشد دی او په دې سره د موضوع اختتام هم کوو چې:

((ألا لا يمنعنّ أحدكم رهبة النّاسِ أن يقول بحقّ اذا رآه أو شهده، فانه لا

يقرب من أجل، ولا يباعد من رزق أن يقول بحق  أو يذكر بعظيم)). (رواه أحمد)

*ژباړه: خلک مه پرېږدئ چې تاسو له حق ويلو څخه منع کړي، که چېرې تاسو د حق خبره کوله نو له مرګ او خپل رزق څخه مه وېرېږئ، په حق ثابت پاتې شئ او د الله سبحانه تعالى ذېر ذکر کوئ.*

(رواه احمد)

## والايه لبنان

۱۴۱۴ هـ.ق کال، د رمضان ۲۱ مه، د ۲۰۲۰ م کال د مې ۱۴ مه